لیکوال: داکتر نوراحمد خالدی
ژباړن: ذبیح الله خوگیانی

۲۰۲۲/۱۱/۲۶

پښتانه څوک دی؟

لومړی برخه

د پښتون قوم) پختون چې پښتانه یا پختانه جمع ده (یو لوی قوم دی چې اصلي هېواد یې د پېښور شمال لوري ته د چترال او کنړ او په ختیځ کې تر اټک د سند) اباسین (سیند تر غاړې پورې او په سوېل کې تر ملتان او کوټې او په لوېدیځ کې تر ننګرهار، لغمان، کابل، ارزګان، کندهار، هلمند او فراه پورې رسېږي .پښتانه د هندوکش د سوېلي سیمو د غور څخه د اباسین سیند پورې تر ټولو لوی قوم دی .په ۲۰۱۹ ز کال کې د پښتنو مجموعي نفوس 50 میلیون تنه اټکل شوی دی) د ۱۵ میلیونو په شاوخوا په افغانستان کې، ۳۵ میلیونه تنه ختیځ پښتانه دي چې د ډېورنډ د کرښې بلې خوا ته په اوسني پاکستان کې اوسېږي او نیږدې لس میلیونه پښتانه په هندوستان، عربي هېوادونو، اروپا، امریکا او نورو هېوادونو کې ژوند کوي)

پښتانه په هندوستان کې د پټان، افغان او همدا راز د روهیله په نوم مشهور دي او په ایران کې د افغان په نامه پېژندل کېږي .د جنیتیکي څېړنو په اساس (د پلوس وان مجله ۲۰۱۲ ز کال (پښتانه حد د اقل د کرنې او مسي تمدن د پیل د زماني څخه) دولس زره کاله را په دېخوا (په هغه سیمو کې چې د هندوکش په سوېل کې موقعیت لري د اباسین سیند پورې مېشته دي .دې خلکو پخوا د خپل هېواد لپاره کوم ځانګړی نوم نه درلود .

)د پښتنو د مېشت ځایونو نقشه (

فارسانو، ترک ټبرو، او عربانو پښتنو ته د اوه ګان، اپګان او بلاخره افغان چې د عتیق له زماني څخه په دې سیمو کې سوار کارانو او نجیب زاده ګانو ته ورکول کېدو، نوم ورکړی وو او دوی ته یې» افغان» خطاب کولو، چې د دوی ټاټوبي ته یې» افغانستان «ویل .ابن بطوطه چې د خپل سفر په ترڅ کې کابل ته راغلی وو په خپله سفر نامه کې لیکي» :بیا مو کابل ته سفر وکړ، دلته د عجمو څخه یوې طایفې ژوند کولو چې افغان نومېده .کابل د پخوا څخه د افغان پاچاهانو پلازمېنه وه (ابن بطوطه عربي متن ۴۰۶ پاڼه، کابل ته سفر 1320 ز .«(دا برداشت یا پوهه د دې په اساس ده چې فارسان، ترک ټبرو، د هندوکش د شمالي ساحې او فارسیوانان کوم چې د کابل د شمالي ساحې اوسېدونکي وو، او د دوی د خولې څخه بیا عربانو دوی ته «افغان «وویل .د دې څخه وروسته بیا سیف هروي د هرات د تاریخ په کتاب کې چې په اوومه هجري پېړۍ کې) ۷۲۱ ه ل 1321 ز کال (لیکل شوی چې افغانستان ته د ملک شمس الدین د تګ څخه په تفصیل سره یادونه کوي .

په همدې ترتیب سره په بابر نامه) توزک بابري (کتاب کې ظهیرالدین محمدبابر د کابل خلکو د قول څخه په ۱۵۲۸ ز کال کې لیکي چې د کابل سوېلي خواته ټول» افغانستان «دی .په همدې اساس او د نورو کتابونو څخه په استفادې لکه د» تاریخ فرشته «کتاب چې د مغولو په زمانه کې د ابوالقاسم فرشته په نوم د یو مهاجر فارسي لیکوال لخوا په هندوستان کې لیکل شوی او چاپ شوی وو -او همدا راز د بابر نامه یا توزک بابري په استناد چې د اکبر پاچا د امپراتورۍ په وخت په هندوستان کې چاپ شوی وو .

مګر باید متوجه اوسو چې د فارسانو) ایرانیانو (لپاره د هندوکش سوېل خواته ټول خلک» افغان» او سیمه یې »افغانستان «وو .د ایران په تاریخي کتابونو کې د افغانستان خلکو ته په اشاره د پښتون او تاجک نومونو څخه هېڅکله کار نه دی اخیستل شوی بلکې د هغې په ځای د «افغان» او د هغه جمع چې» افاغنه «دی استفاده شوې ده .

انګرېزانو او نورو اروپایانو هم پښتنو ته د«افغان «په نامه خطاب وکړ او د دوی هېواد یې د «افغانستان «په نامه یاد کړی .مونت ستیوارت الفونستون په خپل معروف کتاب کی لیکی چی د "افغان "کلمه دی خلکوته در فارسی د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ژبی له خوا راغلی ده مگر ددوی نوم خپل وولس ته" پشتون "او جمع یی" پشتانه "دی او اعرابو دوی د" سلیمانی " په نوم پیژندل .الفونستون لیکی چی دا خلک خپل هیواد ته یو خاص نوم نه درلود مگر کله کله د فارسی نوم "افغانستان" نه کار اخیستل) د کابل سلطنت. 1842م، د کانگرس کتابخانی أی دی آف کاپی، ص 200 .(
په همدې اساس، دا طبیعي ده چې د احمد شاه ابدالي د دولت د جوړېدو څخه وروسته ورو ورو د هېواد نوم افغانستان او د ملت نوم افغان په سیمه کې رواج شو تر هغه چې د احمد شاه دوراني د مړینې څخه اووه لس کاله وروسته په رسمي توگه تثبیت شو لکه چه حاجي ابراهیم د قاجاریانو د دولت صدر اعظم په ۱۷۸۹ز کال کې په رسمي مکتوب کې د شاه زمان لومړی وزیر وفادار خان ته د «افغانستان هېواد د صدر اعظم «په نامه خطاب کوي) صدیق فرهنگ، افغانستان په پنځو وروستیو پېړیو کې .(تر هغه ځایه چې زه معلومات لرم دا لومړی ځل دی چې د افغانستان نوم په رسمي توگه د یو بهرني دولت لخوا ولیکل شو. د دې رسمي مکتوب په ځواب په همهغه کال کې د شاه زمان صدر اعظم وفادار خان هم په رسمي ډول د افغانستان د هېواد نوم اخلي) صدیق فرهنگ، افغانستان په پنځو وروستیو پېړیو کې (چې د افغانستان د نوم لومړنی ثبت شوی رسمي سند دی .
حامد نوید لیکي» :د تاریخي منابعو څخه په استفادې، د افغان کلمه د اسوه کان Asvakan د اصطلاح څخه رېښه اخیستې ده چې د سانسگرېټ په ژبه کې سوار کار مانا لري، اوه گانا د پرکریت په ژبه کې، اوه گان د اوستایي په پخوانۍ ژبه کې، ابگان، په پهلوي ساساني ژبه کې او په اسلامي زمانو کې د «افغان «په ډول تلفظ شوی او لیکل شوی وو چې په دواړو ژبو یاني په دري او پښتو کې معمول او رواج شول. د ۰۰۰افغان اصطلاح د تاریخ لیکونکو د مطالعاتو په اساس او د ژبپېژندونکو لکه جان مارټن Martin John ایر کلیوس Reclus – E چې د فرانسې څخه وو، کریستن لیسن Lassen Christian د ناروې څخه، مک کرندل McCrindleاو الکساندر کنینگهم Cunningham Alexanderد برېتانیا څخه هغه لقب یا نوم وو چې د ډېر وخت راهیسې سوار کاران یا د اس سپرو ته وېل کېده .دا نظر اگره وال Agrawala چې د سانسگرېټ ژبې یو مشهور هندي څېړونکی وو تایید کړې او د هغه په نظر د افغان کلمه د یو خاص قوم یا ټبر لپاره استعمال شوې نه ده. د دې په خاطر د پښتنو په قومونو لکه ځدران، منگل، غلزي، دوراني، هوتک، اندړ، کاکړ، احمدزي، سړبني، پوپل، سوري، گدن، لودي، ستانکزي، محمدزي، یوسفزي، بنوڅي، خروټي، سواتي، سهاک، شینواري، ابدالي، توخي، بارکزي او نور د پښتنو قومونه لکه اورکزي، بامي زي، هوتخېل او تره خېل د هېڅ یوه قبیله د افغان یا افغانزي په نوم شتون نه لري) .« حامد نوید، اریانا افغانستان انلاین، د کلماتو رېښه یابي ۲۷/۲/۲۰۱۸ ز .(
په هندوستان کې د مشهور «افغان «ټبر خلک د «خان» د کلمې سره یو ځای استعمالېږي لکه غفار خان، یوسف خان، عمران خان، قادر خان، شاهرخ خان، امجد خان او نور مشهور کسان .د هغه مقام او منزلت سره چې د مختلفو پاچاهانو لکه د غزنوي، غوري، لودي او سوري درلود، هغوی د هند خلک په یاد لري .په هندوستان کې دغه ټولې سلسلې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د «افغان «شاهانو په نوم تدریس کېږي .حتی د ایران صفویانو، افشارو او قاجاریانو په زمانه ایرانیانو موږ ته خراسانی نه ویل مگر افغان او جمع یې» افاغنه «بلل .په خواشینۍ سره باید ووایم چې د هندوستان پرخلاف، په ایران کې د افغان او افاغنه د نوم څخه کرکه او نفرت کېږي او د تبعیض په سترگو ورته کتل کېږي، په سلهاوو ځلې افسوس چې په دې اخیرو کلونو کې په ایران کې زموږ هزاره افغانان د دې نفرت او تبعیض هدف گرځېدلي دي .
د افغانستان نوم په تدریجی توگه د تیمورشاه د زمانی نه را پدی خوا او په همدی اساس د افغانستان تول اوسیدونکو ته د "افغان" خطاب معروف شو او .انگریزی جورج فورستر، چی د هند شرقی د کمپنی یو مأمور وو، د اعلیحضرت تیمورشاه په وخت د بنگال نه د کشمیر، پیښور، کابل، قندهار او هرات له لاری ایران، روسیه او انگلستان ته په کال 1782م سفر درلود .دی د خپل سفر د خاطراتو په کتاب کی د درانی پاچا د واکمنۍ قلمرو ته چی هلته ددی په نامه د جمعی د ورځ د لمونز په وخت کی خطبه ویل کیده د "افغانستان "په نامه یاد کړی ده .
نن د «افغان» نوم په ټوله نړۍ کې د افغانستان د ټولو اتباعو استازیتوب دی او د دری سوه کاله را په دېخوا، د میرویس خان د وخت څخه بیا تر نن ورځې پورې، د افغان حکومتونو د هویت ښکارندوی پاتې شوی او ټوله نړۍ موږ په همدې هویت پېژني .د افغان انگلیس دری جگړې) ۱۸۳۸ -۱۸۴۲ز، ۱۸۷۸– ۱۸۸۰ز، او ۱۹۱۹ز) د خراسان ـ انگلیس د جنگونو په نوم نه دي ثبت شوې .موږ نشو کولی د ستمي سیکتاریستانو او جدایي غوښتونکو کسانو د خوښۍ لپاره د خپل هېواد معاصر تاریخ له یاده وباسو او خپل لرغوني تاریخ ته د پای ټکی کېږدو .
کریم پوپل په مشعل وېبپاڼه کې (Mashal.org)د پښتنو قبایلو په اړوند داسې لیکي» :پخ او یا پکت د هند د اریایي جنگیالیو قومونو څخه یو قوم دی چې ... نورو قومونو د فشارونو په خاطر یې د هندوکش سوېل ساحې ته هجرت کړی بلاخره د پکتین په نامه) پکتیا (یوه سیمه کې مېشت شول، او د دې ځای خلکو ته پکتون) پختون (او سیمې ته د پکتانو کور وېل کېدو .پروفیسور مورگسترن د افغان قبایلو د رېښې په اړوند لیکي :پکتو د لومړي ځل لپاره د هیرودت پواسطه ولیکل شو .دی یادونه کړې چې پښتانه د اریایي یوولس قومونو څخه یو قوم دی چې د منځنۍ اسیا دښتو د سوېلی سیمو څخه یې مهاجرت پیل او د هندوکش له سړو غرونو د تېرېدو څخه وروسته د سلیمان غرونو په مناطقو کې مېشته او پاتې شول .هیرودت لیکي چې د پکتیک خلک ډېر زړه ور او جنگیالي خلک وو .باید ولیکو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې پښتنو د نېکونو د مهاجرت تیوري، د منځنۍ اسیا څخه د هندوکش سوېلي سیمو ته حتی د اباسین سیند تر څنډو هېڅ لرغون‌پېژندني، ژب پېژندني او جنیتیکي ثبوت نه لري. د دې بر عکس هغه جنیتیکي معلومات چې شته دي په دې سیمو کې د دې خلکو اوسېدنه او شتون د دولس زره کلونو څخه هم اضافه ګڼي .
پښتانه د بلوڅانو سره اکثر یو ځای پاتې شوي دي .دا احتمالي لاره چې پښتانه غزني او پکتیا ته داخل شول، دوه نظرونه شته دي .د مرو له لارې سیستان، کندهار، غور، بامیان، غزني او پکتیا .دوهمه لاره منځنۍ اسیا، بلخ، بامیان، غور، غزني او پکتیا .الفونستون لیکی چې پشتانه د غور نه تر سلیمان غرو نو په ساحه کی میشته دی او د سلطان محمود په اردو کی تر تولو نه زیاد سربازان د همدی خلک وو او د غوریانو په نامه د غزنوی واکمنۍ یی ختم او دری سوه کاله په هندوستان کی حکومت وکړ) مونتستیوارت الفونستون، د کابل سلطنت، 1842، لندن . (
پښتانه مسکون او مالدار خلک دي د اوړي په موسم کې یې د بابا او هندوکش د غرو په لمنو کې د مالدارۍ کارونه کول .د دوی یوه وړه فرقه په کندهار، بلوچستان، ارزګان، بامیان، غور، غزني او پکتیا کې اصلي مېشته کسان شول. د دوی لویه فرقه بیا د غزني او سیستان تر منځ سیمه کې مېشته شول. د عربو تر راتلو پورې د دې قوم لیک او لوست نه وو زده. د لوېدیځو سیمو پښتانه د عربو د راتلو سره سم مسلمانان شول. د خیتځو سیمو پکتان په کابل باندې د عربو د حملې سره مسلمانان نه شول، مګر وروسته له دې چې د کابل خلک مسلمانان شول، دوی هم مسلمانان شول .چې د دې قوم مسلمانېدل ډېر سخت وو، دوی هم په زور مسلمانان شول .چې دې ته سوته مسلمان هم وېل کېږي .د دوی نښانې دا دي چې ځینې پښتانه د شنو او ابي رنګه سترګو خاوندان دي. د پکتانو په پخوانۍ ژبه کې د غ او ف توري شتون نه درلود .په دې شکل تر نن ورځې د پکتیا خلک افغانستان ته اوګانستان وایي .د دې څخه وروسته چې د دې قوم نفوس زیات شو د کندهار، هلمند، لوګر او کابل ولایتونو ته مهاجر شول .عربانو، سلطان محمود غزنوي، غوریانو په خپلو جګړو کې د دې قوم) سوریانو (څخه په خپل لښکر کې استفاده وکړه .د شنسب)فخر الدین(اولاده، امیر پولاد، امیر کروړ او نورو سوري شاهان چې د تخارستان، غور، هرات او خراسان په غرونو او رغونو کې یې پاچاهي کوله د خپلې حکمرانۍ په وخت کې د غرشاه په نامه یادېدل .د دې امکان هم شته چې غرزوی، غرزي، او غلجي د همدغه څخه نوم اخیستی وي. د غور اکثره سوریان د غزنویانو سره یو لاس شول د غزنویانو په لښکر کښی هندوستان ته ولاړل او جګړو په کې یې برخه واخیسته .د غوریانو په دې لښکر کښی کې)چې د څو ملیتونو څخه جوړ وو (د قدرت خاوندان شول او نسل یې تر هندوستان پورې ورسېد .اوس د پښتون د ملیت شاخې ډېرې شوېدې او د افغانستان، پاکستان، او هندوستان په ګوټ ګوټ کې موجود او مېشته دي) .«کریم پوپل، افغان، د مشعل وېب پاڼه .(
د پښتنو قومونو د رېښې په هکله په فېسبوک کې زما یو ملګري پوښتنه وکړې :پوښتنه» :ځینې پښتانه په خپله دا ادعا کوي چې موږ د بني اسراییلو قوم څخه یو او د دوی دا ادعا د یو کتاب په اساس ده چې تاریخ خورشید جهان نومېږي... زموږ معاصر لیکوالان، پښتانه اریایي معرفي کوي په دې دلیل چې د ژبپوهنې د علم په اساس په پښتو ژبه کې عبري) هبرو (لغات نشته، دا په داسې حال کې چې اریایي کلمات پکې ډېر دي، که ممکن وي د دې مسئلې د رد یا منلو په اړه یوه مقاله ولیکئ) «.عبدالله حبیب سرحدي (
حقیقت دا دی چې پورته ذکر شوې ادعا د موجوده تاریخي، مهاجرتونو، او نور جنیتیکي معلوماتو سره مطابقت نه لري چې لاندې پرې غږېږم :
لومړی – داسې کسان د مذهبي عقایدو په اساس د قیس عبدالرشید او خالد نومونه چې اصلا په خراسان کې د عربو قوماندانان وو، کله چې جګړه ختمه شوه او د دوی ماموریت سرته ورسېد، نو دوی د پښتنو په سیمه کې مېشت شول، په همدې سیمو کې یې د پښتنو سره ودونه وکړل او عربستان ته د بېرته تګ څخه یې انکار وکړ چې د دوی څخه خپل نسلونه پاتې دي، چې په عقیده وي لحاظ ځینو په اشتباه د پښتنو سره د خالد چې یو مشهور قوماندان وو نسل یو ګڼي چې دا بی بنسته ادعا د بنی اسرایلو سره د پښتنو د ارتباط په دې اساس ولاړه ده) تاریخ فرشته، میر ابولقاسم فرشته . (
دوهم- په تېرو کلونو کې جینیتیکي څېړنو (سلول پېژندنه) د پښتنو موجودیت د سند په ټوله سیمه کې، او د هند او پاکستان په شمال کې په تېرو زرګونو کلونو کې تثبیت کړی. د غور د غرونو څخه تر چترال او بلوچستان پورې د پښتنو قومونه مېشت دي. جینیتیکي څېړنو د پښتنو د نیکونو قرابت د سند او د هند او پاکستان شمال سره ثابت کړی دی. دا خلک حد اقل د دولس کلونو را هیسې یاني د کرکیلې د پیل څخه په دې سیمه کې مېشت دي .
دریم – د پښتنو نفوس په پاکستان او افغانستان کې د پنځوس میلیونو څخه ډېر دی او د لس میلیونو څخه ډېر نور پښتانه په نورو هېوادونو لکه هندوستان، ایران، متحده عرب امارات، او د نړۍ په نورو هېوادونو کې مېشته دي. په دې حساب د پښتنو نفوس د نړۍ په سطحه تر شپېتو میلیونو اټکل کېږي. دا په داسې حال کې چې د ټولو یهودانو نفوس په اسرایلو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د پنځلس میلیونو څخه کم دی. دا څنګه امکان لري چې د دوی یوه وړه څانګه د دوی څخه پنځه ځلې اضافه نفوس ولري. او په تاریخی کتابو کې هم لیکل شوي ندي چې د مصر او فلسطین څخه د خلکو لویې کتلې د هلمند د سیند یا اباسین سیند حوزې ته مهاجر شوي وي .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

څلورم- تر کوم ځایه چې تاریخ ښکاره کوي، پښتنو او غوریانو د اسلام دین او دري ژبه د هند شمال ته یوړله او په ۱۲۲۰ ز کال کې لومړنی پښتون واکمن، سلطان جلال الدین (چې د جلال اباد ښار د ده په نامه دی)، په هندوستان کې واک ته رسېږي، د اسلام د ظهور څخه وروسته یانې د ۶۰۰ کلونو څخه په لږ وخت کې. دا په خپله دا ښکاره کوي چې د پښتنو قومونه د نفوس، ژوند او اوسېدو د سابقې له لحاضه او د هلمند او سند سیند تر منځ سیمه کې د سیاسي نفوذ له لرلو څخه چې تاریخي قدامت او لرغونی تاریخ لري دوی ته په هندوستان کې د حکومت جوړونې امکان ورکړ .

پورته دلایلو ته په کتو سره پښتانه اسرایل ګڼل یا د اسرایلو هجرت له منځني ختیځ څخه دې سیمو ته کوم علمي بنسټ نه لري .

پنځم- ځیني څېړونکي، لکه احمد علي کهزاد او ارغندیوال، په دې باور دي چې د اسد طوسي ګرشاسپ نامه او د فردوسي طوسي شاهنامه اسطوره یزقهرمان «ګرشاپ» همغه د پښتون افسانوي څېره «غرغښت» دی. د دې سربېره دوی دا هم مني چې د زرنج صفاریان هم د پښتون قوم څخه وو .

دا یوه تصادفي خبره نه ده چې زموږ په مېشته سیمو کې پښتنو دولتونو د مغولي، صفوي، او نادر افشار د حاکمیتونو ځای ونیو .دوی پدې سیمه کې د افغانستان د دولت د جوړېدو تر مخه، د ټولو نه لویه قومي کتله وه .په هندوستان کې یې د څلورسوه کالو څخه ډېر حکومت وکړ او د دوی حکومتونه د غلجیانو څخه تر لودیان او سوریانو، د بنګال څخه تر کابل او کندهار پورې حاکمیت درلود .دا پښتانه وو چې د غوري نظامیانو تر عنوان لاندې یې د هند په شمال کې اسلام ته پراختیا ورکړه .

پښتنو په هند کې د مالیاتو غوره سیستم جوړ کړ .د پښتون سلطان شیر شاه سوري وروستی حکمراني، بابر پادشاه د زوی همایون لخوا فارس د صفویانو په ملاتړ ختمه شوله. د هند پښتون حکومتونه د کندهار څخه تر بنګال پورې تجارتي لارې لرلې او په مناسبو ځایونو کې کاروان سرایونه جوړ شول .پښتنو دري/فارسي ژبه چې د خلکو تر منځ د افهام او تفهیم وسیله وه د مختلفو قومونو تر منځ، لکه اردو چې په هندوستان کې وه، د خپلې اداري رسمي ژبه وټاکله .دوی په هندوستان کې د دري ژبې د پرمختګ لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې، چې د پښتنو په پیروی وروسته بیا بابري مغولو هم فارسي دري ژبه خپله رسمي ژبه غوره کړه .

پورته ذکر شویو دلایلو ته په کتو سره، د پښتون قوم د بني اسرایلو یوه څانګه ګڼل فرضیه او د منځني ختیځ څخه دې ساحې ته د مهاجرت نظریه، هېڅ تاریخي، ژبني، نفوسي، کلتوري او جنیتیکي علمي بنسټ نلري .

ماخذونه :

i د» تاریخ نامه هرات «لیکوال سیف بن محمد بن یعقوب الهروي) ۷۲۱-۶۸۱ه س)، د غلام رضا طباطبایي مجد په بیا تصحیح سره. د تاریخ نامه هرات کتاب په لومړي ځل د محمد زبیر صدیقي لخوا چې د کلکتې په پوهنتون کې د ختیځو ژبو استاد وو د کلکتې په شاهي کتابتون کې د یوازېنی پاتې شوي نسخې له مخې نه چې په اتمې هجري پېړۍ پورې ارتباط لري، اصلاح شو او د یو مفصلې سریزې سره په انګلیسي او فارسي ژبو د خان بهادر خلیفه محمد اسد الله په کومک سره په ۱۳۶۲ ه ل کال کې په کلکته کې چاپ شوی .د هغې څخه وروسته غلام رضا طباطبایي مجد لخوا د همدغې دوهم ځل تصحیح شوي متن له مخې دا کتاب په ۱۳۸۳ ه ل کال کې په تهران کې خپور شو .

ii جورج فورسټر، د بنګال څخه انګلستان ته یو سفر د هندوستان د شمالي ساحې له لارې، کشمېر، افغانستان او فارس، روسیې ته د کسپین سیند له لارې، لندن،۱۷۹۸ م .

iii محمد قاسم فرشته ؛) تاریخ فرشته :تاریخ گسترش اسلام در هندوستان (د خپرېدو تاریخ تر ۱۶۱۲م پورې؛، انګلیسي ژباړن د اصلي فارسي نسخې له مخې ۱۶۰۶م د جان برګز لخوا، د مدراس اردو د شرقی هند کمپنی، بیا چاپ د ۲۰۰۶ کال کې، ډهلی .

د لومړی برخی پای

لیکوال :ډاکټر نوراحمد خالدی

پښتو ژباړه :ذبیح الله خوګیانی

د کتاب نوم: افغانستان :خلک، تاریخ او سیاست

الکترونیک پی دی اف PDF کاپی 33-19 ص

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ